مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوديال ۲۰۲۳/۰۷/۱۷

# "ګورکه" او "مانکورت" د بشريت پر تندي تور داغونه



استعمار د خپلو حريصانه ناوړو مقاصدو لپاره له خونړيو جنګونو، مکر، زور، زرشيندلو، دمغزونو مينځلو، بې خرته تبليغاتو، خرافاتو خپرولو، بې اتفاقي اچولو اود جهل د تخم دکرلو برعلاوه، دوه نور نيرګونه هم په کار اچولي وو:
يو يې په خپله د مفتوحه سيمو له بيوزلو، کمشعوره او مجبورو خلکو څخه لښکر جوړول و چې د دوی د آسونو ترمخې به د جګړې لومړی کرښه کې لکه مچان تبا کېدل او دوی به دخپلو مستعمراتو سيمې د دوی د وينو په توپيدو پراخولې.
اتلسمه پيړۍ کې انګريز د پنجاب ډير ادا ډول ګورکه لښکرې تر پېښور،وزيرستان، مومندو او ديره جاتو راوستل؛ هم زرګونه ګورکه قتل او هم يې ولسی مبارزينو ته دسر زيانونه واړول. له نيکه مرغه وروسته خلک هوښيار شول، هغه سوړيان چې يووخت دانګريز دلښکر د توپ غوښې او د انګريزی استعماری جنرالانو غلامان وو، اوس د سياست خلک دی او ځينې فلانی چهودری صاحب او بستانی چهودری صاحب دی چې اولادونو يې د لندن کالجونو کې تحصيلات وکړل.
دوهم يې مانکورت شوي ځوانان وو(دي). ( mankurt) تورکي لغات دی. قديم کې زورواکو- ښکيلاکګرو معصوم ځوانان موندل( ډېرځله به يې راتښتول)، سر به يې ور وخرييه، د اوښ تازه پوټکی به يې پر سر کلک ور وپيچه، تر زجر او کړاوونو لاندې به يې ونيو، دوی خورانو به ورو ورو خپل نوم، خپله ژبه، مورو پلار او سيمه هېره کړه، فقط دستور او امر منل به يې په ذهن کی کيناستل . اربابانو، ښکېلاکګرو او ځبېښاکګرو په دغو مظلومو انسانانو څومره په بيرحمی خپل شوم مقاصد ترلاسه کړل.
تاسوبه واياست چې شکر الحمد لله چې دغه د ظلم تياره دورانونه تير شول او اوس انسان ته څومره درناوی کيږي.
بښکه چې هغه دتاريخ تور دور تېر شو. اوس متمدن بشريت دغه ډول اعمال محکوموي. دا دوه زشت اعمال تر برده کې (مرئيتوب) هم لوی ظلم و. خو کله شک پيدا شی چې لا هم زموږ جغرافيه کې په يوه نوې بڼه د ګورکه لښکرد تنظيم کيدو په حال کې ده او له شپږ – اووه کلنی پورته د لښتو، خېټرو او سوکانو په ګوزارنو دخرافاتو په پوټکی دمعصومو ماشومانو ذهنونه تړل او يو بې شعوره مانکورت شوی ورڅخه جوړيږی چې نه خپل تاريخ، برم، وطن او ارزښتونه پيژنی او نه د راتلونکی لپاره څه برنامه او هيلې لري. دوی د يوې استعماری نوې نقشې فدايان دي. څوک وايي چې بشريت متمدن شو؟ لا هم شرق کې د انسان او انسانيت لوړ مقام ته درناوی نشته.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ